مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۱/۱۲/۲۰

# بوټ رنګوونکی ماشوم

## (کیسه_ګی)

د سړک تر غاړې بوټ رنګوونکی ماشوم غونج ناست و. مخې ته یې دوه د رنګ بوتلونه او دوه برسونه اینښي وو.

ما ویل بوټان سم رنګولی شې؟

داسې په موسکا یې (هو ) وویل لکه ګرم جامپر چې مې ور ډالۍ کړی وي.

ما ویل اضافه چیلکې لرې چې پېنو یې کړم؟

بیرته داسې خواشینی شو لکه توده ډوډۍ چې یې له لاسه وغورځېږي. تر ډېره یې خپلو لوڅو پښو ته کتل.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ